**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د سختی او آسانی حالات

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ»ژباړه:« او په ياد ولرئ، ستاسي رب خبردار کړي واست چي که شکر و باسئ؛ نو ړر تاسي به لا زياته پيرزوينه وکړم»**او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی فرمايي: يقينا زه ددي لپاره را ليږل شوی يم چې نيک اخلاق بشپړ کړم، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

د الله جل جلاله سنتو څخه پخپلو مخلوقاتو کې دادي چې ژوند يی د سختی او آساني ترمنځ ګرځولي دی او همدارنګه تنګسيا او پراختيا او د خفګان ترمنځ يی ګرځولي دی او د ايمان خاوندان هغه څوک دي چې په ټولو حالاتو کې صبر او شکر کوي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د مومن چاري ټول خير او ښيګڼه ده او دا د مومن پرته بل چاته نشته که چيرته ديته خوشي ورسيږي شکر وباسي نو د هغه لپاره خير او ښيګڼه ګرځي او که غم ورته ورسيږي نو صبر کوي نو دا هم د هغه لپاره خير ګرځي.

د الله جل جلاله د خه وو کارونو څخه دادي چې د سختي څخه وروسته آساني راولي او د غم څخه وروسته خوشحالي راولي لکه چې الله جل جلاله فرمايی:« فَإِنَّ مَعَ العُسْرِ يُسْرًا * إِنَّ مَعَ العُسْرِ يُسْرًا» ژباړه:« نو حقيقت دا دی چي له تنګسې سره پراختيا هم شته. * ببشکه له تنګسي سره پراختيا هم شته.» کله چې چاري تنګسيا ومومي نو هغه پراخه کوي او د سختی وروسته آسانتيا راولي او د سختي وروسته آسانتيا او خوښي راځي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د غم وروسته خوښي او د سختي وروسته آسانتيا راځي.

د انبياء عليه السلام په سيرت کې که څوک فکر وکړي نو دغه سيرت به په خکاره ډول سره وګوری يعقوب عليه السلام خپل اولاد چې په لومړي سر کې يوسف عليه السلام بيا دوهم ځوي يی څو کاله له لاسه ورکړي وي تردي چې د هغه نظر د ډيري ژړا څخه کمزوري شوی وو او همدارنګه د خپلو اولادونو د جداوالي له کبله هغه ډير غمجن وو لکه چې الله جل جلاله فرمايی:« وَابْيَضَّتْ عَيْنَاهُ مِنَ الْحُزْنِ فَهُوَ كَظِيمٌ» ژباړه:« هغه په زړه غمونه زغمل او د سترګو تور يې سپين شوي ول.» خو هغه هيله د لاسه ورنکړه لکه چې قرانکريم د هغه په ژبه باندي فرمايلي دي:« يا بَنِيَّ اذْهَبُوا فَتَحَسَّسُوا مِنْ يُوسُفَ وَأَخِيهِ وَلا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْكافِرُونَ» ژباړه:« زما زامنو، لاړ شئ د يوسف (ع) او د هغه د ورور څه پته ولټوئ. د الله له رحمت څخه ناهيلي مه اوسئ، د هغه له رحمت څخه کافران ناهيلي کيږي."» او د الله جل جلاله له لوري خوښوي ورته د سختي او امتحان څخه وروسته راغله او د هغه نظر يی بيرته وګرځولو او اولادونو يی ورته بيرته ورکړ لکه چې الله جل

جلاله فرمايي:«فَلَمَّا أَنْ جَاءَ الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ» ژباړه:« نو كله چې زيرى راوړونكى راغى، هغه د يوسف (ع) كميس د حضرت يعقوب (ع) پر مخ وغوړاوه او په ناڅاپي ډول د هغه د سترګو ديد بيرته راغى. په دې وخت كښې هغه وويل: "ما تاسي ته نه وو ويلي چې زه د الله له لوري په هغه څه پوهېږم چې تاسي ورباندې نه پوهېږئ؟"».

همدارنګه الله جل جلاله يونس عليه السلام د بحرد تيارو او د شپې د تيارو څخه وساتلو او د ماهي په خيټه كې د هغه ساتنه يې وكړه نو د سختي وروسته اسانتيا راوسته او د تنګسيا څخه وروسته پراختيا لكه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَذَا النُّونِ إِذْ ذَهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَلَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَى فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ* فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ» ژباړه:« او موږ د كب څښتن (يونس ع) هم ونازوه، كله چې هغه په غصه تللى ؤ او انګېرلې يې وه چې موږ به هغه مواخذه نكړو. په پاى كښې هغه په تررړميو كښې اواز وكړ: "بېله تا څخه بل هيڅ خداى نسته، ستا ذات پاك دى، بېشكه ما كمى كړى ؤ."* هله نو موږ د هغه دُعا قبوله كړه او له غم څخه مو وژغوره. او پدغه شان موږ مؤمنان ژغورو.».

الله جل جلاله ذكريا عليه السلام ته وروسته له هغه چې هغه سپين ږيرى شوى وو د هغه هډوكي وراسته شوي وو او سر يې سپين او اولاد الله جل جلاله ورته وركړو او د هغه دعاء يې قبوله كړه هغه الله جل جلاله ته داسى دعاء كړى وه: **(قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ * فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا مِنَ الصَّالِحِينَ).**

د اسلامي شريعت په نصوصو كې كه څوک فكر وكړي نو وبه ګوري چې الله جل جلاله د خوښي لپاره بيلابيلي دروازي او كلي ګاني ګرځولي دي چې لدې جملي څخه د پرهيزګارى ترسره كول او الله جل جلاله ته په ټولو حالاتو كې رجوع كول او الله څخه دعاء كول او د الله ذكر كول لكه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا» ژباړه:« څوك چې د الله څخه په وېرېدو كار وكړي، الله به د هغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو كومه لاره پيدا كړي.* او هغه ته به له داسي لاري څخه روزي وركړي، چې هغه لوري ته يې ګومان هم نه رسيږي. څوك چې پر الله توكُل وكړي، د هغه لپاره الله كافي دى. الله د خپل كار پوره كوونكى دى. په يقيني توګه، الله د هر شي لپاره يوه اندازه ټاكلې ده.» او بيا فرمايي: « أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ أَإِلَهٌ مَّعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ» ژباړه:« څوك دى چې د بې كس، بې وس دُعا اوري، كله چې هغه يې وبلي او څوك د هغه كړاو ايسته كوي؟ - او (څوك دى چې) تاسي د ځمكي خليفګان ګرځوي؟ - ايا له الله سره كوم بل خداى هم (د دې كار كوونكى) دى؟- تاسي بيخي لږ غور كوئ.» همدارنګه نبي كريم صلى الله عليه وسلم به د سختي په وخت كې دغه كلمه ويله **(لا إلهَ إلا اللهُ العظيمُ الحليمُ، لا إلهَ إلا اللهُ ربُّ العرشِ العظيمِ، لا إلهَ إلا اللهُ ربُّ السماواتِ وربُّ الأرض رب العرشِ الكريمِ)** همدارنګه نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چاته چې غم او مرض او يا څه

ورسيږي نو هغه د ووايې چې ای الله تالره شريک نشته نو پدی سره به د هغه څخه غم لری شي.

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

څومره ښه ده چې انسان د الله ذکر وکړي هغه که په سختي حالت کې وي او که په خوشحالي کې د ازمايښت به حالت کې وي که د آسانتيا په حالت کې او د هغه کسانو د جملي څخه بايد و نګرځي چې قرانکريم مونږ ته د هغو د کړونو په هکله خبرداری راکړي دي بداسي ډول سره چې د خوښي په وخت کې د الله جل جلاله ذکر هيروي او د الله د نعمتونو شکرنه اداء کوي لکه چې الله جل جلاله د دوي د کړونو په هکله فرمايي:« وَإِذَا مَسَّ الإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُو إِلَيْهِ مِنْ قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَنْدَادًا لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِهِ» ژباړه:« پر انسان چي کله کوم افت راځي، نو د خپل رب خوا ته په رجوع کولو سره هغه بولي. بيا کله چي د هغه رب يې پخپل نعمت سره سرلوړی کړي، نو بيا هغه مصيبت هيروي چي له امله يې مخکي بلنه کوله او نور د الله سيالان ګرځوي، تر څو چي د هغه له لاري څخه (نور خلك هم ) واړوي» او بيا فرمايي:« وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُمْ مِنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِنْهُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ» ژباړ:« د خلکو حال دا دی، چي کله تکليف ورته رسيږي، نو د خپل رب لوري ته په رجوع کولو سره هغه بلي. بيا کله چي الله د خپل رحمت يو څه خوند په هغو باندي وڅکي، نو په ناڅاپي ډول له هغو څخه ځيني خلك په شرك کولو لاس پوري کوي.»او بيا فرمايي:« وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ وَكَانَ الْإِنْسَانُ كَفُورًا» ژباړه:« کله چي په سمندر کښي پر تاسي مصيبت راځي، نو له هغه يوه ذات څخه پرته چي نورو ته بلنه ورکوئ، هغوی ټول ورکيږي. خو کله چي هغه تاسي ژغوري، وچې ته مو رسوي؛ نو تاسي له هغه څخه مخ اړوئ. په رښتيا چي انسان ډېر ناشکره دی.» او بيا فرمايي:« وَإِذَا مَسَّ الإِنْسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا لِجَنْبِهِ أَوْ قَاعِدًا أَوْ قَائِمًا فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُ ضُرَّهُ مَرَّ كَأَن لَّمْ يَدْعُنَا إِلَى ضُرٍّ مَّسَّهُ كَذَلِكَ زُيِّنَ لِلْمُسْرِفِينَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ» ژباړه:« د انسان حال دا دی چي کله کوم سخت وخت پر راسي، نو په ولاړي، ناستي او ملاستي موږ بلي. خو کله چي موږ د هغه کړاو ايسته کوو، نو داسي ځي، ووځي چي ته به وايي: هغه هيڅکله په خپله کومه بده ورځ کښي موږ له سره بللي نه وو. په دې ډول له حده تيري کوونکو لپاره د هغوی کړه وړه ښايسته کړای شويدي.» او بيا فرمايي:« قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَانَا مِنْ هَذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ» ژباړه:« [اې محمده (ص)!] له دوی څخه پوښتنه وکړه: د ښېديا او سمندر په تيارو کښي څوك تاسي له خطرونو څخه ژغوري؟ - هغه څوک دی چي تاسي (د کړاو په وخت کښي) په زاريو او په پټه پټه دُعاوي ځني غواړئ؟- چا ته واياست چي که تا له دې بلا څخه موږ وژغورلو، نو موږ به هرو مرو شکر ايستونکي اوسو؟»، پدغو آياتونو کې د

هغه کسانو یادونه شوی ده چې په سختي او د امتحان وخت کې د الله جل جلاله ته رجوع کوي خو کله چې د هغه څخه ضرر او امتحان لري شي نو بیا بیرته خپل بد حالاتو ته ګرځي.

مونږ او تاسی ټول دیته اړتیا لرو چې د الله جل جلاله نعمتونو شکر د خوښي په وخت کې اداء کړو او د امتحان او د سختي په وخت کې باید صبر وکړو او د الله جل جلاله ذکر په خوښی او خوشحاي او په سختي او د غم په ټولو حالاتو کې ترسره کړو لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسللم فرمایلي دي: د چا چې الله جل جلاله دعاء په سختي کې قبوله کړه نو هغه د په آساني کې هم ډیره دعاء وکړی همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله په هغه وخت کې یادوه چې په تا باندي آسانتیا وي نو الله به تا د سختي په وخت کې یاد کړي همدارنګه ابودردا رضي الله عنه فرمایلي دي: د الله جل جلاله څخه دعاء په خوښي کې غواړه نو هغه به تاته هم به سختي حالت کې ستا دعاء قبوله کړي.

**الله د ټولو مشکلات حل کړي او د هغه د نعمتونو د شکر اداء کولو توفیق مونږ ته راکړي**